هارون خپل

۲۰۱۰/۱۰/۰۸م

# د اکتوبر اوومه، په افغانستان او سیمه کې د یوه خونړي ناتار پیلامه

دافغانستان په تاریخ کي دخونړیيو ورځو شمېر لږ نه دئ . زموږ  په سیاسي تاریخ کي داسي پېښي ډېري دي، چي له پلار څخه زوی، له یوه ورورڅخه بل ورور، له یوه تربورڅخه بل تربورراو یا له یوې ډلي څخه بلي ته، د سیاسي واک لېږدېدل زیاتره له وینواو وژنو سره تړلي وه . سره له دې هم په دې ټولو ناوړواوخواشینونکو پېښوکي یو افغان د بل افغان په وړاندي ولاړ ؤ؛ په بله ژبه قاتل او مقتول، غازي او شهید دواړه زموږ خپل خلګ وه؛ خو د ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر اوومه د دغه راز ملي غمیزو پرخلاف د هغو درو تورو او خونړیيو ورځو په ډله کي ده، چي پردو لښکرو په خپل ټول واک او ځواک سره، زموږ پر ویاړلي او خپلواک هیواد، خونړي یرغلونه وکړه . لومړی پلا برتانوي پوځونود۱۸۳۹م = ۱۲۵۵هـ ق کال د اپرېل پر شلمه خپل لاس پرنامه نوکر( شاه شجاع) په کندهار کي د پاچهۍ پر تخت کښېناوه؛ دوهم ځل روسي یرغلګرود۱۳۵۸ ش کال د جدي پر شپږمه = د ۱۹۷۹م کال د ډیسمبر پر اووه ویشتمه،د الوتکو او ټانکونو په زور ،خپل وفادار غلام ( ببرک کارمل) د کابل په ارګ کي، شرمېدلي واکمنۍ ته ورساوه. دریم وار د ۲۰۰۱م کال د اکتوبر پر اوومه امریکایي او انګرېزي لښکروپه خپل پوځي یرغل سره، د حامد کرزي په مشرتابه د جنایتکارانو، ورانکارو، غلو، جاسوسانو او وطن پلورونکو بېلابېلي ډلي سیاسي واک ته ورسېدې؛او په دې توګه یې زموږ په جنګ ځپلي هیوادکي د یوې بلي خونړۍ فاجعې سر کښېښاوه. په داسي حال کي،چي هیڅ افغان هیڅکله د چا خاوري یا ملي ګټو ته په بده نه وه کتلي؛ خو سره له هغه هم په دغو درو سره ملي ناورینوکي زموږ د تاریخي هیواد سیاسي خپلواکي، مځکنۍ بشپړتیا او ملي واکمني د یرغلګرو لښکرو له خوا لتاړسوه؛ په کلونو کلونو د وینو والې و بهېدې؛ میلیونونه شهیدان او ټپیان سوه؛ د یتیمانو، کونډو، بورو او ورارو شمېر تر حساب واوښت؛ او هره ځل زموږ خواره جونګړه د اور په لمبو کي وسوه . دا دئ تر نهو کالو وروسته  بیا هم هره ورځ د انسان وژنو، ورانیيو او بدمرغریيو دابهیر په  خورا درز ودروز روان دئ.

ځینو ساده اوخوش باوره افغانانو د طالبانو دافراطي رژیم ترخوتجربو ته په پام سره، د دې ظالمانه تېري په پیل کي د بشري حقوقو، ډیموکراسۍ او ازادۍ د مدعیانو سرواو زرغونو باغونو ته په ډېري خوشبینۍ سره کتل؛ اودا یې هېر کړي وه، چي څنګه لوېدیځو دولتونود خپلو ستراتېژیکو ګټو د تحقق په خاطر، له سره پوځ سره دجګړې په کلونوکي د افغانانو پر وینو او سرونو سوداګري وکړه؛او دخپلو هدفونوتر لاسته راوړلو وروسته یې افغانانوته په  شا اړولو سره زموږد ژوند او مرګ واک د ګاونډیيو هیوادو استخباراتي سازمانواو د هغوی روزل سوو جنګي ډلو ته وسپاره. زموږ  خوش باوره خلګو د استعمارګرانو د پخوانۍ څېرې په هېرولو سره دا ځل باور درلود،چي د« جنت پریښتې» به مونه یوازي د القاعدې او طالبانو له شره و ژغوري، بلکي ډېر ژر به د خپلو هیوادوپه شان موږ ته هم ګل وګلزار جوړ کړي . ډېره موده نه وه تېره، چي زموږ د خوش باوره خلګو دا خواږه او پاسته خوبونه، په خاورو کي لاهو سوه؛د هري ورځي په تېرېدو سره یې د امنیت او کرارۍ ټغر ټول سو. داورانه او ویرجنه مېنه یو ځل بیا د نړۍ د لویو قدرتونو، ګاونډیيو او سیمه ییزو هیوادو د سیاسي، پوځي، اقتصادي او فرهنګي لوبو په خطرناک ډګر واوښته؛ هره خوا د جګړې ، نامنیيو، ورانیيو، وژنو، سرې تښتونو، زورزیاتیيو، بې عدالتیيو، مخدره موادواوطاعون ډوله فساد لمن وغوړېده؛ او دا دئ دا خونړۍ بهیر اوس د یو نیم لک بهرني او څولکه کورني پوځ له موجودیت سره  سره، د چاودېدو حالت ته رسېدلئ دئ . دانګلیستان د ګارډین ورځپاڼي د ډېټابلاګ د رپوټ له مخي په دې غیرانساني جګړه کي د روان کال د آګست د میاشتي تر لسمي نېټې پوري نونس زره شپږ سوه نه ویشت(۱۹۶۲۹)ملکي افغانان وژل سوي اواته څلوېښت زره، شپږ سوه څلورڅلوېښت(۴۸۶۴۴) ملکي کسان ټپي سوي دي. د ملګرو ملتو د شمېرنو له مخي د روان کال په تېرو شپږو میاشتوکي د وژل سوو او ټپي سوو ملکي کسانو شمېر په سلو کي یودېرش زیات سوی دئ . بې شکه د ټولو ملکي افغانانو او بې ګونا قبایلي پښتنو د مړو او ټپیانو دقیق شمېر تر دې ډېر زیات دئ . په دې نابرابره استعماري جګړه کي د طالبانو او نورو وسله والو جنګیالیيو د ځاني تلفاتو شمېرني تر اوسه نه دي په ډاګه سوي؛ خو له ائتلافي ځواکونو څخه د ۲۰۰۱م کال د اکتوبر له اوومي څخه تر اوسه، دوه زره یوسلو یودېرش( ۲۱۳۱) پوځیان وژل سوي دي، چي په هغوکي دولس سوه څلورڅلوېښت ( ۱۲۴۴) امریکایان دي . د رویټرز خبري آژانس د رپوټ له مخي، په دې ورانوونکي جنګ کي، یوازي د امریکامتحدو ایالاتو د روان کال د جولای میاشتي تر لومړۍ نیمایي پوري درې سوه اووه شپېته( ۳۶۷) بیلیون ډالره لګولي دي . که د ټولو ائتلافي هیوادو د پټو او ښکاره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو  همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

جنګي لګښتونو دقيقي شمېرې وړاندي سي، دا پيسې ښايي ډېره موده مخکي لا تر يوه ټريلين ډالرو اوښتي وي. تصور وکئ، چي د انسان وژني او ورانۍ په دغو پيسو څو افغانستانه جوړېدای سوای؟

هو! په دې ستره افغاني غميزه کي، د يرغلګرو دولتونو او همسايه هيوادو پر پوځي، سياسي او اقتصادي واکمنانو سربېره زموږ د وران هيواد بېلابېلو جنګي، سياسي او اقتصادي کړييو هم خورا درنې او زوروري ګټي وکړي؛ داسي ګټي وټي چي ښايي هيڅکله به يې په خوب کي هم نه وې ليدلي؛خو په ډېري خواشينۍ سره چي دکورنۍ او بهرنۍ مافيا د تورو او چټلو ګټو پر خلاف، په دې افغاني ضد او بشري ضد جګړه کي، زموږ ربړېدلو او غمځپلو خلګو ته د سر، مال او ناموس جبران نه منوونکي تاوانونه ورسېده؛ اولا هره ورځ رسيږي . له دې امله يوازي کورنۍ او بهرنۍجنګي ډلي ټپلي، د وسلو پلورلو انحصاري شرکتونه، سياسي دلالان، جاسوسان او نور بې وجدانه عناصر د دې انساني ضد جنګ تر شا ولاړ دي؛ ځکه په سوله او امنيت کي د هغونړوا ګټي تل تر تله پای ته رسيږي.

د القاعدې او طالبانو د له منځه وړلو په نامه جګړه اوس د ډيورينډ د تيږل سوي کرښې دواړو خواوو ته د پښتون ولس د عامي وژني او تباهۍ په يوه پراخه جګړه اوښتې ده؛ د دې بې مفهومه جنګ په لمبوکي نه يوازي زموږ ورانه جونګړه او شاوخوا سيمه سوځي، بلکي د نړۍ نور هيوادونه يې هم له ناوړو اغېزو،خوندي نه دي . د اکتوبر د اوومي نېټي د پوځي يرغل طراحانو د خپلو تورو او کرغېړنو نخشو د علمي کولو له پاره، په افغانستان او سيمه کي د دوښمنييو او نفرتونو توخمونه وکرل؛ اورونه يې بل کړه؛ او د وينو والې يې و بهولې اما دې ټولو وحشتناکو عملونود افغانانو مقاومت مات نه کړ؛ د يوه طالب پر ځای يې لس طالبان و زېږول؛ او تر هغه مهاله چي دا ظالمانه جنګ او دا غيرعادلانه نظم روان وي، د طالبانو او نورو مخالفينو شمېر به ورځ په ورځ مخ پر ډېرېدو وي. بلې! د طالبانو حکومت ملي او مترقي نظام نه ؤ؛ خو سره له هغه هم هيڅ هوښيار، خپلواک، باغروره او باوجدانه افغان د امريکا د بي ۵۲ الوتکو په زور د هغه د نړولو نه غوښته نه کوله . له طالبانو سره جوړه يا مبارزه دواړه د افغانانو کورنۍ او ملي مسألې وې . د پردو په توپ او ټانک له خپلو ورونو سره جنګېدل، نه يوازي د افغانيت او اسلاميت له اصولو ليري کار دئ، بلکي په جهالت يا ځان غوښتني سره د خپل کور ورانولو ته ملا تړل دي. د جنګ دواړي افغاني خواوي بايد په دې خبره ښه سر خلاص کي، چي استعمار بې خپلوغيرانساني ګټو، د هيچا ورور نه دئ . پښتانه نا حقه نه وايي: «پردی کټ تر نيمو شپو دئ .» کړېدلوافغانانو په تېرو نهو کالوکي د استعمارګرو پوځونو او دهغو د تيږل سوي حکومت ماهيت د سر په سترګو وليد؛ نو ځکه نن پخواني خوشبينان څه چي حتا د امريکايانو روزل سوی او تيږل سوی واکمن- حامد کرزی هم دا خبره مني، چي بهرني پوځونه د خپلو ستراتېژيکو ګټو د تحقق له پاره افغانستان ته راغلي دي.

نن دافغانستان په شمال، جنوب، ختيځ او لوېديځ يا د ډيورينډ تر نامنلي پولي ها خوا د پښتنو په کلو او باندوکي هر ځای د بې ګونا او کړېدلو افغانانوويني تويږي. د دې ناروا او غيرانساني جنګ پړه تر هر چا مخکي د ائتلافي لښکرو او د هغود فاسدو مزدورانو پر غاړه پرته ده . تر هغه مهاله چي پردي پوځونه په سرټمبګۍ سره له زور او قوې کار اخلي؛ او په کابل او ولايتو کي د جنايتکارو، غلو او فاسدو مزدورانو د واکمنۍ سيله کوي، د دې خونړي جنګ د ختمېدو هيڅ څرک نه ليدل کيږي.

د کابل فاسدحکومت د تېرو بې مانا جرګو او غونډو تر جوړولو وروسته دا دئ د سولي تش په نامه شورا وړاندي کړې ده؛ خو د هغي ناکامي تر جوړېدو او فعاليت مخکي څرګنده وه. کرزی د خپل سياسي او حتا فزيکي ژوند د بقا له پاره مجبور دئ، د پخوا په څېر د جنګي ډلو ټپلو مشرانو ته پناه يوسي؛ جنګي ډلي ټپلي، سياسي سوداګراو پلورل سوي عناصر هم په خپل وار سره د خپلو ګټووټو د ساتني او ضمانت له پاره، دحامد کرزي سياسي ملاتړ ته اړتيا لري . له دې امله ناځاپي نه ده، چي دا پلا هم په دې شورا کي له جنګي مجرمينو، سياسي دلالانو او فاسدو زور واکانو پرته څوک نه ليدل کيږي. امريکايان او د هغو سياسي - پوځي متحدين بايدپه دې پوه سي، چي له جنايتکارانو، زورواکانو، غلواو مزدورانو سره هيڅوک خبري نه کوي . هغوی د يرغلګرو پوځونو تر څنګ، د رواني غميزي عاملان او مسببين دي. که احياناً طالبان او نوري وسله والي ډلي، چي زه يې امکان ډېر ليري ګڼم، د خپلو سياسي ګټو پر بنسټ له هغو سره، څه مفاهمې او موافقې ته وهم رسيږي، د افغانستان ربړېدلي او داغداره خلګ به هيڅکله دا پلورل سوي، بې رحمه او بې ضميره ډلي ټپلي ونه بخښي. له دې کبله يوازي سپېڅلي، نېکنام او پر وطن مين مشران کولای سي، د دې ستر ملي اېت مخه ونيسي. ټول ملي او هيوادپال افغانان بايد په ګران افغانستان او سيمه کي د دې شومي استعماري جګړې د ختمولو؛ او د يوه ريښتيني ملي او ولسي نظام د جوړېدو له پاره، لاسونه سره ورکړي.

پای

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ